**مطبوعاتي اعلاميه**

# افغانستان د خلافت د تاسیس او بشري نظامونو ترمنځ په یوه تاریخي ازموینه کې دی، مه پرېږدئ چې د خلافت جوړلو فرصت له لاسه ووځي

خورا چټک او د وړاندوېينې نه وړ بدلونونو يو ځل بيا افغانستان په يو داسې ځای درولی دی، چې ګڼ سياسي لوري، قومي مشران او متنفذين د افغانستان د راتلونکي نظام په اړه پرېکړه کوي.

د حزب التحرير- ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر ټولو سياسي مشرانو، قومي متنفذينو، پخوانيو مجاهدينو، ډلو، د قدرت او ځواک څښتنانو ته وريادوي چې افغانستان د يوه تاريخي فرصت په درشل کې دی، چې دوې ټاکنې يې په مخ کې دي: لومړۍ ټاکنه؛ د الله د دين اقامه کول او د خلافت جوړول او دوهمه ټاکنه؛ بشري نظامونه او د تېرو ترخو تجربو تکرار دی.

اوسمهال امريکا، اورپا، ملګري ملتونه او د سيمې هېوادونه له ګڼو سياسي لوريو سره د يوه داسې مشارکتي نظام په طرحه باندې کار کوي چې اسلامي مختاړی او وروستاړی به لري، د نړيوالو قوانينو پيروي به کوي، په ملي پولو پورې به محدود وي او د سېکولرېزم او اسلام مشترکه ګډوله به وي. څو د افغانستان راتلونکی نظام د نړيوالې ټولنې د منلو وړ وګرځي. داسې نظام چې په هغو کې څېرې بدلې شوې وي، اما قوانين، د نظام بنسټونه او جوړښت يې پرځای پاتې وي. په تېرو څو لسيزو کې پر دا ډول نسخو باندې منګولې لګولو، افغانستان کورنيو جګړو، ړنګېدو او سياسي ګډوډيو ته بېولی و، چې ورپسې يې ښکېلاک ته لاره هواره کړه.

له بل اړخه، د زياترو افغانانو غوښتنه د اسلامي دولت جوړول او د اسلام حاکميت دی. دا يو داسې فرصت دی، چې د ښکېلاکګرو پر وړاندې له کلونو سياسي، فکري او پوځي مبارزې وروسته تر لاسه شوی دی او په دومره سادګۍ او معامله بايد له لاسه ونه وځي. لکه څنګه چې څو ځلې د سياسي حزبونو او متنفذينو د تېروتنو له امله له لاسه ووت.

حزب التحرير يو ځل بيا له ټولو سياسي مشرانو، قومي متنفذينو او ډلو د زړه له تله غواړي، چې د افغانستان د راتلونکي نظام د ډول په اړه د امريکا، ملګرو ملتونو او سيمه ييزو هېوادونو طرحه په غوڅه توګه رد کړي او پرېنږدي، چې د اسلام د حاکميت په لاره کې مو ورکړې قربانۍ يو ځل بيا معامله شي او مطلوبې پايلې ته ونه رسېږي. رښتيا خبره دا ده چې افغانستان او سيمه په خپل زړه کې خورا لوړ فکري، سياسي، اقتصادي او پوځي ظرفيتونه روزلي دي، چې د الله سبحانه وتعالی د دين د اقامې غوښتنې ته د مثبت ځواب ويلو په صورت کې به ان شاء الله د نړۍ په دغه برخه کې د دغه دردېدلي قوم په مشرۍ لوی بدلونونه راشي. مګر دا هغه مهال شونې ده، چې داسې سړي شته وي، چې په دغه موخه ايمان ولري او د سختيو پر وړاندې استقامت وکړي او د عمل معيار يې شرعي حکم وي. د انصار الله کېدلو فرصت او د دين اقامه د هغو خلکو لپاره يو لوی فرصت دی، چې غواړي د اصحابو کرامو پر لاره قدم کېږدي او د جنت باغونو ته د دنيا په ژر پناه کېدونکو خوندونو باندې ترجيح ورکړي. د هوښيارانو لپاره څومره يو ستر فرصت دی!

**ِا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ لِمَا يُحْيِيكُمْ ۖ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَحُولُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ وَأَنَّهُ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ [انفال:24]**

اې هغو کسانو چې ايمان مو راوړی دی، د الله متعال او د هغه د رسول «ص» غوښتنه ومنئ، کله چې تاسو داسې يو څه ته رابولي چې په هغه کې مو ژوند دی او پوه شئ چې الله متعال د انسان او د هغه د زړه ترمنځ حايل کېږي او د قيامت په ورځ به د همده خواته راټولېږئ.

**د حزب‌التحرير - ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**